د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
Office of Deputy PM for Economic Affairs
د مطبوعاتو رياست



- ملي تدارکاتو کمېسيون د شـــاوخوا ۲,۵ ميلیارده افغانيو په لګښت ۲۱ پروژې منظورې کړې
- مروری گذرا بر مســـوده پاليســـی ملی انکشاف زراعت و مالداری
- SPEECH OF THE DEPUTY PM FOR ECONOMIC AFFAIRS DURING MEETING WITH THE DEPUTY PM AND MINISTER OF FOREIGN AFFAIRS OF TURKMENISTAN

# اباړی

## میاشتنی

گڼه ۱۱
دلو - ۱۴۰۴ ل.ل
پرله‌پسې ۲۶مه گڼه

”

د افغانســـتان اســـلامي امارت د اقتصاد محوره سياست په چوکاټ کې په ســـيمه ييز او نړيوال مشـــارکت باور لري. موږ دې ته ژمن يو چې د خپلو اصولو په چوکاټ کې له هر هېواد سره مناسب تعامل ولرو. د اوږدمهاله ســـياسي او اقتصادي ګټو د خوندي کولو لپاره لازمه ده چې هېوادونه د يو او بل ارزښتونو او حساسو حريمونو ته درناوی ولري.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

# ABAADI

@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Office of Deputy PM for Economic Affairs
د مطبوعاتو ریاست

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام
على سيدنا محمد وآله وصحبه أجمعين

# ابادي

میاشتنی

۱۱ گڼه
دولو - ۱۴۰۴ ل .ل
پرله‌پسې ۲۶مه گڼه

د امتیاز خاوند: د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

کتنپلاوی: مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبیح الله ناصر، امان الله حنیفي
فضل ولي شیراني او نجیب الله مایار

مسئول مدیر: مولوي خالق‌داد تقي

ډیزاینر: عطاءالرحمن سعید

فوټوژورنالیست حجت الله قاضي زاده

مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل
0202107500
media@dpmea.gov.af
dpmea.gov.af

د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.
استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


سرلیکنه ۱

غونډې ۲ - ۹

د اقتصادي پروژو راپورونه ۱۰ - ۱۹

د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې ۲۰ - ۳۴

English Section 1 - 6



# سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د افغانستان برېښنا شرکت او عزيزي انرژۍ پانګونې شرکت ترمنځ د ۸۴۵ مېګاواټه په ظرفيت د لمريزې او له ډېرو سکرو څخه د برېښنا توليد د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پيل تړونونه لاسليک شول. په يادو پروژو شاوخوا ۴۶۳ میلیون ډالر پانګونه کېږي، چې د لمريزې برېښنا پروژې به په دوو کلونو او د ډېرو سکرو پروژې به په درېيو کلونو کې بشپړې شي. انرژي په ځانګړې ډول برېښنا د اقتصادي ودې له پاره مهم فکټور بلل کېږي. د اقتصاد هر سکټور په يوه نه يو ډول انرژۍ ته اړتيا لري. له ساينسي انکشافاتو وړاندې د انرژۍ اړتياوې له څارويو، انسانانو او هوا څخه پوره کېدې، خو کله چې ساينس پرمختګ وکړ؛ نو ځای يې د انرژۍ د توليد نويو توکو لکه اوبو، د ډېرو سکرو، تيلو، ګازو او داسې نورو ونيو. که موږ غواړو انرژي توليد او د انرژۍ د توليد له سرچينو ګټه پورته کړو، اړ يوو چې له يوه لوري له پرمختللې ټکنالوژۍ او بشري ځواک څخه ګټه پورته کړو او له بل لوري په دې برخه کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونه جلب او جذب کړو. تر هغې چې موږ په کافي اندازه برېښنا ونه لرو، نه شو کولای صنعت او دې ته ورته نور سکټورونه د پرمختګ په لور بوځو. د يو هېواد د اقتصادي ودې لپاره صنعت تر ټولو مهم دی، د نړۍ هغه هېوادونه چې له جګړو راوتلي او چټک اقتصادي پرمختګ يې کړی دی، اساسي لامل يې د صنعت پرمختګ دی. افغانستان هم د صنعت په برخه کې د پام وړ پرمختګ کړی دی او لا هم دا هڅې روانې دي چې په هېواد کې د صنعتي پرمختګ لپاره هر ډول شرايط او زمينه برابره شي، چې تر ټولو مهم يې برېښنا ده. د برېښنا همدې اهميت ته په کتو اسلامي امارت په افغانستان کې د برېښنا د شته سرچينو څخه د برېښنا توليد ته مخه کړې ده. د افغانستان برېښنا شرکت او عزيزي انرژۍ پانګونې شرکت ترمنځ د لمريزې او ډېرو سکرو څخه د برېښنا د توليد د پنځو پروژو د عملي چارو د پيل تړونونو لاسليک يې ښه بيلګه ده. که څه هم دا د عزيزي ګروپ د هغه لس زره ميګاواټه برېښنا د توليد لومړي ګامونه دي، خو امتياز يې ځکه اسلامي امارت ته ورکول کيږي، چې د اسلامي امارت په راتګ سره له يوه لوري په هېواد کې سرتاسري امنيت ټينګ شو چې دا د پانګونې او په هېواد کې د سترو پروژو د پيل له پاره زمينه برابروي او له بل لوري کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته د نورو برخو ترڅنګ د برېښنا د توليد په برخه کې پراخ فرصتونه برابر او ډېرې اسانتياوې ورته رامنځته شوې دي. په هېواد کې د اړتيا وړ برېښنا په توليد سره به زموږ صنعت، کرنه، سوداګري، روغتيا او دې ورته نور ټول سکټورونه ورځ تر بلې پرمختګ وکړي او د زيربنايي سکټورونو په ځانګړې ډول صنعت په ودې سره به د هېواد اقتصادي وده چټکه او په ډېر لنډ وخت کې به افغانستان په اقتصادي لحاظ يو خپلواک او پر خپلو پښو ولاړ هېواد شي.



د اقتصادي کمېسیون، ملي تدارکاتو کمېسیون
او د پانګونې بین الوزارتي کمېټې

# غونډې

# بهرنیو پانګوالو ته په افغانستان کې د پانګونې په مقابل کې د اقامو پر ورکړه بحث وشو

د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند په مـــشرۍ د اقتصادي کمېســـیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ لمریز کال د سلواغې میاشتې په ۱۸مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. دې غونډې ته بهرنیو پانګوالو ته په افغانســـتان کې د پانګونې په مقابل کې له یو تر لســـو کلونو پورې د افغانستان د اقامې د ورکړې موضـــوع د بحث لپـــاره وړاندې شـــوه. له بحث وروســـته موضوع تایید او په دې اړه ټاکل شـــوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د پانګونې مقدار ته په کتو د اقامې د ورکـــړې وخت په کټه‌ګوریو وویشي او د موضوع د ټولو اړخونو په پام کې نیولو سره خپل راپور د اقتصادي کمېسیون راتلونکي مجلس ته وړاندې کړي. همدارنګه په دې غونډه کې د هېواد په ګمرکونو کې د تیر (TIR) عملیې د پیل او پای د پلي کېدو پر موضوع هم بحث وشو. د دې موضوع د هراړخیـــزې ارزونې په اړه کمېټه وټاکل شـــوه، څو خپـــل راپور په ټـــاکلي وخت اقتصادي کمېســـیون ته وړاندې کړي. همداراز د غونډې په پای کې د لاله او صدف ښارګوټو په اړه ټاکل شـــوو کمېټو د خپلو ارزونو راپورونه وړاندې کړل. د یادو راپورونو په پام کې نیولو سره له اړوندو ادارو څخه ټاکل شـــوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د یادو ښـــارګوټو موضوعات په هراړخیز ډول وڅېړي او راپورونه یې له اقتصادي کمېسیون سره شریک کړي.



# پالیسی ملی توسعه سکتور زراعت و مالداری و طرح توسعه سکتور پرورش ماهی تأیید شد

جلسه نوبتی کمیسیون اقتصادی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، به تاریخ ۲۱ دلو ۱۴۰۴ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار شد. به این جلسه، پالیسی ملی توسعه سکتور زراعت و مالداری به کمیسیون ارائه گردید و پس از بحث، مورد تأیید قرار گرفت.

میکانیزه‌سازی سکتور زراعت و مالداری، توسعه سیستم‌های تحقیقی و ترویجی زراعت، آبیاری و مالداری، مدیریت سیستم‌های آبیاری، حمایت از سرمایه‌گذاری در بخش‌های زراعت، آبیاری و مالداری و دسترسی مردم به محصولات باکیفیت زراعتی و حیوانی از اهداف اساسی این پالیسی به‌شمار می‌رود.

همچنان در این جلسه، طرح توسعه سکتور پرورش ماهی مورد بحث قرار گرفت و تأیید شد.

بر اساس این طرح از طریق سرمایه‌گذاری سکتور خصوصی، در ۶۵۰۰ هکتار زمین در بخش‌های مختلف کشور، ۷۷۰۰ فارم کوچک، متوسط و بزرگ تولید و پرورش ماهی ایجاد خواهد شد. با تطبیق این طرح، به‌گونه مستقیم برای ۵۰ هزار نفر و به‌گونه غیرمستقیم برای ۲۵۰ هزار تن از هموطنان زمینه کار فراهم می‌گردد.

در پایان جلسه، گزارش‌های شماری از موضوعات تعقیبی نیز ارائه شد و در مورد آن، توصیه‌های لازم به ادارات مربوطه صورت گرفت. این فیصله‌ها به‌منظور اتخاذ تصمیم نهایی، به دفتر عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله تعالی ارسال گردید.



## ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ۲.۵ میلیارده افغانیو په لګښت
## ۲۱ پروژې منظورې کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ لمریز کال د سلواغې میاشتې په اوومه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه.
دې غونډې ته ۳۳ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې. له بحث وروسته د شاوخوا ۲.۵ میلیارده افغانیو په ارزښت ۲۱ پروژې منظورې شوې او په ۷ پروژو کې بیا یولړ تعدیلونه راغلل. همداراز یوه پروژه بیاځلې پرانیستې ملي داوطلبۍ او بله پروژه د ګټونکي شرکت د مخکنیو کاري نیمګړتیاوو له امله معطل شوه. د دغه شرکت د ټولو موجودو قراردادونو د هراړخیزې څېړنې لپاره کمېټه وټاکل شوه، څو له څېړنې وروسته خپل راپور د ملي تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي. همدارنګه یوه پروژه بېرته اړوند وزارت ته د تدارکاتي ستونزو له امله اعاده او د دوو پروژو د قیمتونو په اړه ټاکل شوو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، څو په دې اړه له ګټونکو شرکتونو سره مذاکره ترسره او راپور یې د ملي تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي.

په منظور شوو او تعدیل شوو پروژو کې د کابل، هرات، ننګرهار، بلخ او خوست ولایتونو د هوايي ډګرونو د ګمرکونو لپاره د سکنرونو اخیستل، له ګردیز څخه تر خوست پورې د عمومي سړک ترمیم، د غزني او فراه ولایتونو لپاره د امنیه قوماندانیو د ودانیو جوړول، د سرپل ولایت د سلطان ابراهیم بند د اوبو لګولو د تفصیلي ډیزاین او امکان سنجۍ مطالعات، د سرپل ولایت د سانچارک، سوزما قلعه او ګوسفندي ولسوالیو ته د برېښنا رسونې، د کندوز ولایت په قلعه ذال، د هلمند ولایت په ګرشک، د پروان ولایت په شینوارو، د فراه ولایت په پرچمن، د خوست ولایت په لکن، د تخار ولایت په ورسج، د کاپیسا ولایت په آله سای، د کابل ولایت په شکردرې او د بدخشان ولایت په درایم ولسوالیو کې د عمومي روغتونونو جوړول او همدارنګه په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا رسونې او توزیع یوشمېر پروژو د پاتې چارو بشپړول شامل دي. منظور شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.



## جلسه نوبتی کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی برگزار شد

جلسه نوبتی کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی به تاریخ ۱۴ دلو ۱۴۰۴ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار گردید. به این جلسه، گزارش ارزیابی وزارت مالیه در مورد طرح‌های ارائه شده پیرامون مارکیت ظاهرشاهی واقع ناحیه اول شـــهر کابل ارائه گردید. پـــس از بحث، این گزارش به منظور تصمیم نهایی به مقام محترم رهبری معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء راجع گردید. همچنان در این جلســـه، گـــزارش ارزیابی وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی در مورد ساخت یک مارکیت تجارتی بر زمین مربوطه این وزارت در شـــهر مزارشریف ارائه و پس از بحث مورد تأیید قرار گرفت. بر اساس این گزارش، زمین یادشده به منظور ساخت مارکیت تجارتی به داوطلبی آزاد ســـپرده خواهد شـــد. در ادامه این جلســـه، طرح ارائـــه خدمات اخـــذ و تمدید پلیت و جواز ســـیر برای موترســـایکل و زرنج نیز مورد بحث قرار گرفـــت. پس از بحث، تصمیم گرفته شـــد که این خدمات توســـط ریاســـت عمومی ترافیک به‌گونه مستقیم ارائه گردد و طرح پیشنهادی در این زمینه رد شد.



## د پانگونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه ترسره شوه

د پانگونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ لمریز کال د سـلواغې میاشتې په ۲۱مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شـوه. دې غونډې ته د هرات ولایت په اسـلام کلا بندر کې د تخلیې او بارگیرۍ طرحه د بحث لپاره وړاندې شـوه. په اسلام کلا بندر کـې د تخلیـې او بارگیرۍ مرکز پـه جوړېدو سره به سـوداگرو ته د صـادراتي او وارداتي توکو پـه برخه کې ډېرې اسانتیاوې رامنځته شي. له بحث وروسته ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شـوه، څو د یادې موضوع او په دې اړه د وړاندې شـوې طرحې هراړخیزه څېړنه ترسره او خپـل راپور د پانگونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.



# په سرپل او جوزجان ولایتونو کې
# د سوداګریزو مارکېټونو د جوړېدو طرحې د تایید وړ وبلل شوې

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ لمریز کال د مرغومي میاشتې په ۲۸مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د سرپل ولایت په ګوسفندي ولسوالۍ کې د ښاروالۍ پر ځمکه د شرعي عقد (استصناع) پر بنسټ د سوداګریز مارکېټ د جوړېدو طرحې په تړاو د ټاکل شوې کمېټې راپور وړاندې شو. د راپور له مخې، یاده طرحه د تایید وړ وبلل شوه. د دې طرحې له مخې به دغه سوداګریز مارکېټ دوه پوړونه او ۱۴۸ دوکانونه ولري. همداراز دې غونډې ته د جوزجان ولایت د مرکز اړوند په درېیمه ناحیه کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ د جوړېدو طرحې په تړاو د ټاکل شوې کمېټې راپور وړاندې شو. د راپور له مخې، یاده طرحه د تایید وړ وبلل شوه. د دې طرحې پر اساس به دغه سوداګریز مارکېټ پنځه پوړونه او ۷۹ دوکانونه ولري. همدارنګه په دې غونډه کې د سوداګریزو، دیني، ټولنیزو او امارتي اعلانونو د خپرولو په موخه پر ښاري ټکسي موټرو د سکرینونو لګولو طرحه هم د بحث لپاره وړاندې شوه. له بحث وروسته ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د دې طرحې ټول اړخونه په ښه ډول و ارزوي او خپل راپور په ټاکلې نېټه د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.



# د سوالګرو راټولولو
## او سوالګرۍ څخه د مخنیوي کمېسیون غونډه جوړه شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د سوالګرو راټولولو او سوالګرۍ څخه د مخنیوي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ لمریز کال د سلواغې میاشتې په اتمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. د غونډې په پیل کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دغه کمېسیون د رامنځته کېدو پر اصلي هدف او همدارنګه د تېرو دریو کلونو پرمهال له کابل ښار څخه د سوالګرو راټولولو پروسې پر ارزښت خبرې وکړې. محترم ملا صاحب وویل، د دغه کمېسیون د غړو ادارو د هڅو په پایله کې له کابل ښار څخه تر ډېره سوالګر راټول شوي او له مستحقو سوالګرو سره د اسلامي امارت له لوري په میاشتني ډول نغدي او د خوراکي توکو مرستې شوې دي. ورپسې د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت د مسوولینو له لوري د سوالګرو راټولولو او سوالګرۍ څخه د مخنیوي کمېسیون له کړنو څخه د نظارت راپور غونډې ته وړاندې شو. د راپور له مخې، په کابل ښار کې د سوالګرو راټولولو پروسې له پیل راهیسې ۷۴۹۶۸ سوالګر راټول شوي، چې له دقیقې ارزونې وروسته یې ۳۷۹۴۷ مستحق او ۳۷۰۲۱ بیا حرفوي سوالګر پېژندل شوي. مستحق سوالګر د افغاني سرې میاشتې ته ورپېژندل شوي، چې په میاشتني ډول ورته د بانکي حسابونو له لارې پیسې حواله کېږي. همدا ډول بیا یوشمېر مستحق سوالګر د درملنې په موخه د عامې روغتیا وزارت او ځینې بیا د کارموندنې په موخه کابل ښاروالۍ ته ورپېژندل شوي. په راپور کې د دغه کمېسیون د ترسره شوو فعالیتونو ترڅنګ په یوشمېر برخو کې موجودې ستونزې هم له ګډونوالو سره شریکې شوې. د راپور له اورېدو وروسته د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دغه کمېسیون ټولو غړو وزارتونو او ادارو ته جدي سپارښتنه وکړه، چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی له لوري «د سوالګرو راټولولو او سوالګرۍ څخه د مخنیوي کمېسیون» منظور شوی طرزالعمل په ښه ډول عملي او تطبیق کړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، په لومړیو کې په کابل ښار کې د سوالګرو شمېر تر ډېره کم شو؛ خو په دې وروستیو کې یوځل بیا څه ناڅه زیات شوی چې جدي تعقیب او کار ته اړتیا لري. همدارنګه پرېکړه وشوه چې د کورنیو چارو وزارت د نشه‌یي توکو پر وړاندې د مبارزې معینیت په مشرۍ به د دغه کمېسیون غونډه په میاشت کې یوځل ترسره کېږي او د خپلو فعالیتونو راپور به د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ته وړاندې کوي.





# د اقتصادي پروژو
## راپـــورونـــه

# کار ساخت سرک کابل - بگرام آغاز شد

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، به تاریخ ۲۳ دلو ۱۴۰۴ خورشیدی، کار ساخت سرک کابل - بگرام را افتتاح نمود. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، سرک کابل - بگرام را یکی از راه‌های مهم وصل‌کننده شهر کابل عنوان نموده و گفت که این سرک، شهر کابل را با ولایت پروان و سایر ولایات شمالی کشور وصل می‌کند. وی افزود، این سرک از زیربناهای اساسی ترانسپورتی شهر کابل جدید به‌شمار می‌رود که از بعد توسعه شهری، فعالیت های اجتماعی و اقتصادی اهمیت خاص دارد. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند اظهار داشت که متأسفانه افغانستان در گذشته به احزاب سیاسی متعدد و بر اجزای قومی، سمتی و زبانی تقسیم شده بود که در نتیجه آن، در بخش تقویت مشترکات ملی، اکثریت بزرگ از دست رفته بود. به گفته وی، امارت اسلامی برای حل این مشکلات تلاش جدی دارد تا این تقسیمات بی‌مفهوم را از میان برداشته و افغان‌ها را در یک موقف اسلامی و ملی واحد گردهم آورد تا منافع بزرگ افغانستان در آن محفوظ بماند. وی گفت که در این راستا، یکی از اقدامات بنیادی، توحید نصاب مدرسه و مکتب تا صنف ششم است که امارت اسلامی انجام داد. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء از تمامی هموطنان خواست که از تقلید کورکورانه دیگران دست بردارند، تحت تأثیر آنان قرار نگیرند و واقعیت‌ها را نادرست تفسیر نکنند. به گفته وی، افغانستان خانه افغان‌ها است و هر فرد می‌تواند در اینجا با آرامش زندگی کند، به کشور بازگردد و سرمایه‌گذاری نماید.

وی گفت: «ما نه مانع کسی شده‌ایم و نه ظرفیت امارت اسلامی آن‌قدر کوچک است که هر مسئله فردی و جزئی را به‌گونه جدی تلقی کند.» محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از کشورهای منطقه و جهان خواست که تعامل مثبت با افغانستان نیاز زمان است و تقویت اتصال منطقه‌ای و جهانی و تعقیب اهداف مشترک توسعه‌ای، یک رکن اساسی به‌شمار می‌رود. به گفته وی، چشم‌پوشی از این واقعیت، پیگیری و دستیابی به اهداف مشترک را تضعیف نموده و فرصت‌های بالقوه موجود را عمداً ضایع می‌سازد. همه کشورها از لحاظ موقعیت جغرافیایی، حریم هوایی، نیروی کار، مواد خام، صادرات و واردات به یکدیگر نیازمند اند و این نیازها زمانی به‌گونه درست برآورده می‌شود که کشورهای جهان در چارچوب روابط رسمی جرأت تعامل داشته باشند، امری که به نفع همه است. در پایان، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء یک بار دیگر از کشورها خواست تا از فرصت‌های موجود در افغانستان مانند امنیت سراسری، سیاست اقتصادمحور، عدم مداخله در امور کشورهای دیگر، اراده قوی برای تعامل سیاسی و اقتصادی و سایر فرصت‌های مشابه استفاده نمایند و تلاش نکنند فرصت‌های به‌وجود آمده را به تهدید مبدل سازند. سرک کابل - بگرام ۶.۲ کیلومتر طول و حدود ۵۰ متر عرض دارد که ساخت آن ۴۵۵ میلیون افغانی هزینه برمی‌دارد که از سوی امارت اسلامی تمویل می‌گردد.

# الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

## تاريخ ګواه دی چې افغانستان غوړه ګوله نه بلکې د زقوم ونه ده

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ لمريز کال د مرغومي مياشتې په ۱۹مه نېټه د حضرت ابو عبيده بن جراح (رض) د ملي دفاع پوهنتون قوماندانۍ اړوند د حضرت معاذ بن جبل (رض) ملي نظامي اکاډمۍ د اوولسمې دورې په فراغت غونډه کې ګډون وکړ. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د نظامي اکاډمۍ په تربيتي دوره کې د مسلکي زده کړو ترڅنګ د ملي دفاع، ملي حاکميت، ځمکنۍ بشپړتيا او سياسي حاکميت د اهميت په اړه د زده کړو ترلاسه کولو له امله فارغانو ته مبارکي وويله او له هغوی يې وغوښتل، چې دا روحيه او زده کړه د اسلامي او لوړو افغاني ارزښتونو د ساتنې لپاره په عمل کې ثابته او د اسلامي نظام او خاورې له لوېشت لوېشت څخه په کلکه دفاع وکړي. حاجي ملا صاحب د نيتونو پر اصلاح، د تقوا پر اختيارولو او د هېوادوالو پر خيال ساتلو هم ټينګار وکړ.

محترم ملا صاحب وويل، اسلامي امارت د اقتصاد محوره سياست په چوکاټ کې په سيمه ييز او نړيوال مشارکت باور لري او د خپلو اصولو په چوکاټ کې له هر هېواد سره تعامل ته ژمن دی. هغه ټينګار وکړ، چې د اوږدمهاله سياسي او اقتصادي ګټو د خوندي کولو لپاره لازمه ده څو هېوادونه د يو او بل ارزښتونو او حساسو حريمونو ته درناوی ولري. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پانګوالو ته زيری ورکړ، چې په نږدې ورځو کې به

اسلامي امارت کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته په نويو سکټورونو کې د پانګونې اندازې ته په کتو له يو تر پنځو کلونو پورې بشپړ مالياتي معافيت اعلان کړي. د هغه په خبره، په دې سره به له يوه لوري نوي سکټورونه پرمختګ وکړي او له بل لوري به د هېواد په اقتصادي وده او خودکفايۍ کې د پام وړ اغېز ولري. محترم ملا صاحب زياته کړه، د صنعت او سوداګرۍ وزارت ته جدي هدايات شوي چې د کوچني، متوسط او لوی صنعت لپاره د ځمکو د توزيع پروسه ګړندۍ او لازم امکانات ورته برابر کړي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال همدارا ز وويل، چې د اسلامي امارت سياست کاذب نه دی او نننی افغانستان خپلې پاليسۍ پر هغو نهادونو بناء کړې دي، چې اساس يې اسلامي شريعت دی. هغه زياته کړه: «افغانستان نه چا ته ضرر رسول غواړي او نه يې له چا مني. خو که څوک ناولې ارادې ورته لري، نو بيا خپل پور چا ته نه پرېږدي. تاريخ ګواه دی چې دا هېواد غوړه ګوله نه؛ بلکې د زقوم ونه ده؛ د مُعَمَّرو امپراتوريو مړۍ يې ور ترخې کړې، نو مولود ماشومان به يې هېڅکله هضم نه سي کړای.» په پای کې محترم ملا صاحب له ټولو هېوادونو وغوښتل چې د اسلامي امارت د ارزښتونو او اصولو په چوکاټ کې دې له افغانستان سره د تعامل هڅه وکړي او هغه انرژي او امکانات چې د يو او بل په تخريب ضايع کېږي، ښه ده چې د يو او بل په ملاتړ او د مشترکو ټکو په پياوړې کولو مصرف شي.



## د افغانستان برېښنا شرکت او عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت ترمنځ د برېښنا تولید د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پیل تړونونه لاسلیک شول

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۴ لمریز کال د سلواغې میاشتې په ۲۲مه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د افغانستان برېښنا شرکت او عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت ترمنځ د ۸۴۵ مېګاواټه په ظرفیت د برېښنا تولید د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پیل تړونونه لاسلیک شول. د دې تړونونو له مخې به د عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت د کابل ولایت په نغلو سیمه کې ۱۰۰ مېګاواټه لمریزه برېښنا، د پروان ولایت په باریک اب سیمه کې ۱۰۰ مېګاواټه لمریزه برېښنا، په غزني ولایت کې ۱۳۰ مېګاواټه لمریزه برېښنا او همدارنګه په تخار ولایت کې ۱٦۵ مېګاواټه او په بغلان ولایت کې ۳۵۰ مېګاواټه د ډبرو سکرو برېښنا تولید کړي. په یادو پروژو شاوخوا ۴٦۳ میلیون ډالر پانګونه کېږي، چې د لمریزې برېښنا پروژې به په دوه کلونو او د ډبرو سکرو پروژې به په درېیو کلونو کې بشپړې شي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د عزیزي ګروپ شرکت له عمومي رییس میرویس عزیزي سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ لمریز کال د سلواغې میاشتې په ۲۲مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د عزیزي ګروپ شرکتونو له عمومي رییس میرویس عزیزي او د هغه له تخنیکي ټیم سره وکتل. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د عزیزي ګروپ شرکت له لوري د لس زره مېګاواټه پروژې اړوند د ۸۴۵ مېګاواټه په ظرفیت د برېښنا تولید د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پیل هرکلی وکړ او دا یې په هېواد کې د کاري فرصتونو د ایجاد او اقتصادي ودې د پرمختګ په برخه کې مهمې وبللې. ښاغلي میرویس عزیزي د ریاست الوزراء له اقتصادي مرستیال او د اړوندو ادارو له مسوولینو مننه وکړه، چې په ټولو برخو کې یې ورسره



پوره همکاري کړې ده او له هېڅ ستونزې سره نه دي مخ شوي. هغه وويل، دوی درک کړې چې اسلامي امارت د هېواد د ابادۍ کلک هوډ لري او دا دی نن د مخلصو مسوولينو د هڅو په پايله کې د برېښنا توليد د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پيل تړونونه لاسليک شول. عزيزي زياته کړه، د روان کال تر پايه به د برېښنا توليد له ۱۵ تر ۲۰ نورې پروژې هم پيل کړي، چې مجموعي ظرفيت به يې پنځه زره مېګاواټه ته ورسېږي.

د عزيزي ګروپ شرکتونو عمومي رييس خوښي څرګنده کړه، چې د افغانستان په خاوره کې د ټاپي پروژې کارونه په ښه ډول مخ ته روان دي، چې هرات ولايت ته د ګازو په را رسېدو سره به له کانونو او پټروليم وزارت سره په همغږۍ د ګازو لويې شبکې او له ګازو څخه د برېښنا توليد د ۳۰۰۰ مېګاواټه په ظرفيت د لويې فابريکې د جوړېدو کارونه پيل کړي. هغه همداراز د طبيعي ګازو او ډبرو سکرو د اکتشاف، استخراج او له هغه څخه د برېښنا توليد په برخه کې له اړوندو ادارو سره د ګډ کار کولو غوښتنه وکړه. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال او اړوندو ادارو مسوولينو په يادو برخو کې د پوره همکارۍ او ګډ کار اطمينان ورکړ.

**ميرويس عزيزي**

**«دوی درک کړې چې اسلامي امارت د هېواد د ابادۍ کلک هوډ لري او دا دی نن د مخلصو مسوولينو د هڅو په پايله کې د برېښنا توليد د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پيل تړونونه لاسليک شول.»**

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ترکمنســتان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو له وزیر سره وکتل

د ریاســت‌الوزراء اقتصــادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني بــرادر اخونــد د ۱۴۰۴ لمریــز کال د ســلواغې میاشتې په ۱۲مه نېټه په هرات ولایت کې د ترکمنستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو وزیر ښــاغلي رشید مردوف سره وکتل. د دغه لیدنې پرمهال د افغانســتان د کانونو او پټرولیم وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري، د اوبــو او انرژۍ وزیر الحاج مــلا محمد یونــس اخونــدزاده، د ترکمنســتان د ترانســپورټ او ریل پټلۍ وزیر، د دولــت وزیر او د ترکمن ګاز دولتي شرکت رئیس او یوشــمېر افغان او ترکمن مسوولینو هم حضور درلود. په دغه لیدنه کې د دواړو لورو ترمنځ د تاپي، تاپ، د اوسپنې پټلۍ او برېښــنا پروژو په اړه خبرې وشوې. د ریاست‌الوزراء اقتصــادي مرســتیال وویل، د تاپي پــروژې پیل د افغانستان، ترکمنستان او سیمې هېوادونو ترمنځ د اړیکو پراختیا ته زمینه برابره کړې او په دې پروژه کې د سعودي عربســتان دلتا انټرنېشــنل کمپنۍ هم پانګونې ته لېوالتیا ښودلې ده. د محترم ملا صاحب په خبره، دلتا انټرنېشــنل کمپنــۍ لېواله ده چې د تاپي پروژې د ګازو اخیســتلو، د ترکمنستان د لوی ګازي بــلاک د ظرفیــت لوړولو، د هــرات ولایت له ګذرې ولســوالۍ څخه د کندهار ولایت تر ســپین بولک ولســوالۍ، له سپین بولدک بیا د هند تر پولې د ګازو د پایپ لاین جوړولو او غځولو، د پاکســتان په ګوادر بندر کې د ګازو د ستر او عصري مرکز جوړولو په برخو کې پانګونه وکړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرســتیال همدارنګه له ترکمنستان وغوښتل چې د تورغونډۍ – هرات ریل پټلۍ پروژې د جوړېدو په اړه افغانســتان ته خپل دریځ روښانه کړي؛ ځکه د دې پروژې د تطبیق لپاره قزاقســتان هــم قوي لېوالتیا لــري. هغه همداراز د افغانســتان له لــوري د تاپ پروژې د لار نقشې د نهایي کېدو لپاره بشپړ





چمتووالی وښـــود او د دې ترڅنګ یې بالا مرغاب، خماب او قرقین ولســـوالیو ته د برېښنا انتقال او د سـیمه ییز اتصـال د نورو پـروژو د پیـل لپاره د افغانستان له لوري د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ. هغه د دواړو هېوادونـــو ترمنځ په روانو پروژو کې افغانانو ته د کاري زمینې د برابرېدو په اړه هم ټینګار وکړ. ورپســـې د ترکمنستان د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر ښـاغلي رشـید مـردوف خبرې وکړې. هغه له اسـلامي امارت څخه مننه وکړه چې د ټاپي پروژې د تطبیق لپاره یې ښــه زمینه برابره کـړې او ویې ویل، چې د روان میلادي کال تر پایه به د دې پروژې کارونه د هرات ولایت تر مرکز پورې راورســیږي. نوموړي په ټاپي پروژه کـــې د بهرنیو شرکتونو د پانګونـــې له لېوالتیا هرکلی وکړ او زیاته یـــې کړه، چې په دې اړه باید لـــه نږدې کار ورسره وشي. همـــداراز هغه د ترکمنســـتان لـــه لوري د تورغونـــډۍ – هـــرات ریـل پټلۍ پـــروژه کې هم پانګونې ته چمتووالی وښود او ویې ویل چې عملاً یې پـــه تورغونډۍ کې کارونه پیـــل کړي. نوموړي زیاته کړه، هېواد یې چمتـــو دی چې له پنځو لارو افغانســـتان ته برېښـــنا انتقـــال او ظرفیت یې لوړ کړي. پردې سربېره د دواړو لورو ترمنځ د سوداګرۍ پراخېدو، بانکي همکاریو، کاري فرصتونو پر ایجاد او په مختلفو برخو کې د اقتصادي پروژو د مدیریت پـــه اړه د ګډ کار کولو په اړه هم خبرې وشـــوې. د یادونـــې وړ ده چې د غونډې پـــه پای کې د دواړو هېوادونو د تخنیکي ټیمونو له لوري د روانو پروژو د کاري پرمختګونو په اړه تفصیـــلي معلومات هم له ګډونوالو سره شریک شول.

# د عامې روغتیا وزارت له لوري د هېواد په ۲۱ ولسوالیو کې عمومي روغتونونه جوړېږي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري په دوه وروستیو ناستو کې د هېواد په ۲۱ ولسوالیو کې د عمومي روغتونو جوړولو پروژې منظورې شوې. دغه روغتونونه د عامې روغتیا وزارت له لوري جوړېږي چې ټولټال پرې شاوخوا یو نیم میلیارد افغانۍ لګښت راځي او مالي تمویل یې د اسلامي امارت له لوري کېږي. دغه پروژې د نورستان ولایت په کامدیش، د زابل ولایت په ارغنداب، د جوزجان ولایت په منګجک، د بغلان ولایت په ډنډغوري، د کندهار ولایت په دامان، د سرپل ولایت په سانچارک، د فاریاب ولایت په پښتون کوټ، د سمنګان ولایت په حضرت سلطان، د غور ولایت په شهرک، د میدان وردګ ولایت په دایمیرداد، د کونړ ولایت په خاص کونړ، د بلخ ولایت په البرز، د کندوز ولایت په قلعه ذال، د هلمند ولایت په ګرشک، د پروان ولایت په شینوارو، د فراه ولایت په پرچمن، د خوست ولایت په لکن، د تخار ولایت په ورسج، د کاپیسا ولایت په آله سای، د کابل ولایت په شکردرې او د بدخشان ولایت په درایم ولسوالیو کې تطبیق کېږي. په یادو ولسوالیو کې به د عمومي روغتونونو په جوړېدو سره د لرې پرتو سیمو خلکو ته په معیاري ډول روغتیایي خدمات ورسېږي او په دې برخه کې به د هغوی موجودې ستونزې حل شي. د افغانستان اسلامي امارت د موجودو امکاناتو په صورت کې پوره هڅه کوي، چې په ټول هېواد په ځانګړې ډول هغو سیمو کې چې روغتیایي خدماتو ته لاسرسی نه لري یا ډېر محدود دی، هلته په ټولو معیارونو برابر خدمات وړاندې کړي.



# هر کیلو گرام کالای صادراتی به یک دالر و کالای وارداتی به ۸۰ سنت انتقال می‌گردد

بر اساس هدایت محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، شرکت هوایی آریانا افغان به منظور فراهم نمودن تسهیلات بیشتر برای تمامی تاجران کشور، خدمات کارگو هوایی برای صادرات و واردات را آغاز کرده است. شرکت هوایی آریانا افغان در حال حاضر از طریق طیاره کارگو، ۱۶٫۵ تُن کالا را صادر و همزمان به همین اندازه اموال تجارتی را وارد کشور می‌کند. طبق معلومات شرکت هوایی آریانا افغان براساس نیاز، اکنون هر روز یک پرواز رفت و برگشت میان کابل و دهلی نو انجام می شود که طبق هدایت معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، کرایه انتقال هر کیلوگرام کالای صادراتی یک دالر و هر کیلوگرام کالای وارداتی ۸۰ سنت تعیین شده است. در حال حاضر از طریق این طیاره کارگو، میوه‌های خشک و تازه، هنگ، زعفران و سایر اقلام به دهلی نو صادر می‌شود و در مقابل، دوا، تجهیزات برقی و سایر کالاها از دهلی نو وارد کشور می گردد. مسؤلان شرکت هوایی آریانا افغان می‌گویند به‌منظور رساندن محصولات افغانی به بازارهای جهانی و فراهم‌سازی تسهیلات بیشتر برای تاجران، در نظر دارند در آینده پروازهای کارگو هوایی را به امارات متحده عربی و برخی کشورهای دیگر نیز آغاز کنند. امارت اسلامی در کنار ساخت خط آهن و سرک‌های معیاری، تلاش دارد از طریق کارگو هوایی نیز محصولات افغانی را به بازارهای جهانی برساند تا از یک سو سطح تجارت گسترش یابد و از سوی دیگر از ضایع شدن میوه‌های خشک و تازه و سایر اقلام جلوگیری به عمل اید.



# کار بازسازی اساسی پارک شهرنو
## ده درصد تکمیل شده است




کار بازسازی اساسی پارک شهرنو شهر کابل سه ماه قبل آغاز شده که تا اکنون ده درصد پیشرفت داشته است. به‌گفته شاروالی کابل، این پارک ۹۰۶۶۳ متر مربع مساحت دارد که ۱۴.۳ درصد آن به شماری از تأسیسات تجارتی و خدماتی از جمله، مارکیت تجارتی معیاری، مارکیت تجارتی زیرزمینی، مکان‌های تفریحی، رستورانت‌ها، مسجد، پارکینگ وسایط نقلیه، حوض آب‌بازی، بخش‌های ورزشی و فرهنگی و همچنان سالون فاتحه‌گیری اختصاص یافته است. کار این بخش‌ها با در نظر داشت تمامی معیارها، در جریان سه سال تکمیل خواهد شد. همچنان ۶۸۲۱۸ متر مربع دیگر این پارک به بوته‌های زینتی و نهال‌ها، ساحات سبز، سیستم حفاظت محیط زیست، گل‌خانه، باغ‌وحش کوچک، مکان‌های تفریحی سرپوشیده و باز، کمپلکس ورزشی و گالری‌های هنری و فرهنگی اختصاص داده شده است. علاوه بر آن، در این پارک مسیرهای پیاده روی به مساحت ۹۴۵۶ متر مربع نیز به گونه اساسی بازسازی می‌شود. برای بازسازی اساسی پارک شهرنو، یک میلیارد و ۹۰۴ میلیون افغانی سرمایه گذاری صورت می گیرد که پس از تکمیل کار بازسازی، به‌گونه مستقیم و غیرمستقیم زمینه کار را برای صدها تن از هموطنان فراهم خواهد کرد. پارک شهرنو از جمله قدیمی‌ترین و مهمترین مکان‌های تفریحی شهر کابل به‌شمار می‌رود که به‌دلیل نبود زیربناها و امکانات معیاری، نیازمند بازسازی اساسی است. با تکمیل کار بازسازی، این پارک نقش مهمی در حفاظت محیط زیست و زیبایی شهر ایفا خواهد کرد و باشندگان شهر به‌گونه رایگان به بخش‌های عمومی آن دسترسی خواهند داشت و پارک شهرنو به یک مکان تفریحی مناسب و مصؤن مبدل خواهد شد.



# مقالي

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند

# مروری گذرا بر مسوده پالیسی ملی انکشاف زراعت و مالداری

نجیب الله مایار

در این مقاله روی، معرفی مسـوده پالیسی ملی انکشاف زراعت و مالداری، تحلیـل وضعیت: واقعیت‌ها و ظرفیت‌ها، شرح پالیسـی،تأکید بر تحقیق و اصلاح نباتات،تقویت خدمات ترویجی ، توجه به منابع طبیعی و اسـتفاده مؤثر از زمین‌های امارتی و میکانیزه سازی زراعت و مالداری بحث شده است.



## مقدمه

پالیسی، مجموعه تصامیم، اصول، مقررات و دستورالعمل‌هایی است که توسط دولت‌ها یا سازمان‌ها برای هدایت عملکردها و رسیدن به اهداف مشخص اتخاذ می‌شود. امارت اسلامی افغانستان برای توسعه سکتور زراعت، آبیاری و مالداری در کشور و مساعد نمودن زمینه کار به هموطنان تلاش دارد تا سطح محصولات زراعتی و مالداری در کشور را بلند ببرد. به همین هدف پالیسی ملی انکشاف سکتور زراعت و مالداری را تدوین نموده است. این پالیسی در جلسه نوبتی کمیسیون اقتصادی که به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، به تاریخ ۲۱ دلو ۱۴۰۴ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار شده بود تأیید گردید. سکتور زراعت و مالداری یکی از اساسی‌ترین ارکان اقتصاد افغانستان به شمار می‌رود که بخش اعظم نفوس کشور به گونه مستقیم یا غیرمستقیم به آن وابسته است. پالیسی ملی انکشاف سکتور زراعت و مالداری با درک چالش‌های موجود و فرصت‌های بالقوه، چارچوبی جامع برای رشد پایدار، افزایش تولید، بهبود کیفیت محصولات و ارتقای ظرفیت‌های تخنیکی و اساسی ارائه نموده است. میکانیزه‌سازی سکتور زراعت و مالداری، توسعه سیستم های تحقیقی و ترویجی زراعت، آبیاری و مالداری، مدیریت سیستم‌های آبیاری، حمایت از سرمایه‌گذاری در بخش‌های زراعت، آبیاری و مالداری و دسترسی مردم به محصولات با کیفیت زراعتی و حیوانی از اهداف اساسی این پالیسی به‌شمار می‌رود. در اینجا به مسوده این پالیسی به‌گونه مختصر نگاهی می‌اندازیم.

## معرفی مسوده پالیسی ملی انکشاف زراعت و مالداری

مسوده پالیسی ملی انکشاف سکتور زراعت و مالداری بر مبنی هدایت شفاهی عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله مطابق مکتوب شماره (۷۳) مؤرخ ۱۴۴۵/۱۱/۲۵ هـ.ق مقام ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان، به منظور انکشاف سکتور زراعت و مالداری طرح و ترتیب شده است. این پالیسی به‌منظور تقویت و انکشاف برنامه‌های تحقیقاتی، ارائه خدمات ترویجی مناسب و مؤثر برای دهقانان، مالداران و سکتور خصوصی، افزایش تولیدات محصولات زراعتی و حیوانی از نظر کمی و کیفی، بازاریابی محصولات زراعتی و حیوانی، مدیریت و توسعه آبیاری، مدیریت و انکشاف منابع طبیعی، سازگاری سکتور زراعت و مالداری با تغییر اقلیم و میکانیزه ساختن این سکتور با در نظر داشت شرایط عینی کشور، تدوین گردیده است. در این پالیسی اقدامات مشخص گنجانیده شده که انجام آن منجر به تحقق اهداف و مقاصد این پالیسی می گردد. این پالیسی تلاش دارد تا با رویکردی استراتیژیک، سکتور زراعت و مالداری را از شیوه‌های سنتی به سمت سیستم‌های عصری و پایدار سوق دهد. پالیسی ملی انکشاف سکتور زراعت و مالداری با رویکردی جامع، تلاش نموده است تا با شناسایی چالش‌ها و فرصت‌ها، مسیر تحول ساختاری این سکتور را هموار سازد. این پالیسی نه تنها به افزایش تولید توجه دارد، بلکه ابعاد محیط‌زیستی، تخنیکی، نهادی و انسانی را نیز در نظر گرفته است. «پالیسی ملی انکشاف سکتور زراعت و مالداری» به عنوان یک سند مهم تلاش نموده است نقشه راهی برای عبور از زراعت سنتی به سوی زراعت عصری، پایدار و تجارتی ترسیم نماید.

## چارچوب مفهومی و استراتیژیک پالیسی

این پالیسی با دیدگاه انکشاف متوازن و توسعه پایدار سکتور زراعت و مالداری و تأمین امنیت و مصؤنیت غذایی تدوین شده و بر اصولی چون تعهد، شفافیت، حمایت یکسان، رعایت ارزش‌های اسلامی و ملی، حفاظت از محیط زیست و تقویت همکاری میان

دولـت، سـکتور خصوصی و جوامع محلی اسـتوار اسـت. اهداف بزرگ آن شـامل توسـعه و انکشاف سیستم‌های تحقیقی و ترویجی مؤثر زراعت، آبیاری و مالداری؛ مدیریت و انکشـاف آبیاری، تنظیم منابع طبیعی و سـازگاری با اثرات تغییر اقلیم؛ حمایت از سرمایه‌گـذاری داخلـی و خارجـی در بخش‌های زراعت، آبیاری و مالداری؛ میکانیزه سـاختن سکتور زراعت و مالداری و دسترسـی مـردم به محصولات زراعتی و حیوانـی از نظر کمی و کیفی در کشـور است. این رویکرد نشان می‌دهد که پالیسی صرفاً بر افزایش تولید تمرکز ندارد، بلکه زنجیره کامل ارزش از تحقیق تا بازار را در بر می‌گیرد.

## تحلیل وضعیت: واقعیت‌ها و ظرفیت‌ها

بر اساس تحلیل ارائه‌شده در سند، افغانستان از لحاظ منابع طبیعی، تنـوع اقلیمی، نیروی کار جوان و زمین های وسـیع دارای ظرفیت‌های قابل ملاحظه اسـت. وجود بیش از ۳۹ میلیون هکتار اراضی، تولید رو به رشد برخی محصولات چون گندم، میوه‌جات، سـبزیجات و نباتـات طبی، و دسـت‌یابی بـه حـدود ۸۰ درصد خودکفایی در گوشت مرغ، نشانه‌هایی از ظرفیت بالفعل کشـور اسـت. در این حال، چالش‌های سـاختاری همچون: تداوم روش‌های سـنتی کشـت و مالداری، کمبود سیسـتم‌های آبیاری معیاری، ضعف تحقیقات بنیادی و کاربردی، نبود زیربناهای پروسـس و بسـته بندی، کمبـود مارکیت‌های منظم و رقابـت نابرابر با محصولات وارداتی، تأثیرات تغییر اقلیم و خشکسـالی های متواتر باعث شده است که تولید داخلی پاسخگوی نیاز کشور نباشد و وابستگی به واردات ادامه یابد.

## شرح پالیسی

پالیسـی ملی انکشاف سـکتور زراعت و مالداری به منظـور ارتقای پایـدار این سـکتور از طریق تقویت تحقیق و نوآوری، بهبود خدمات ترویجی، افزایش کمی و کیفی تولیدات، توسـعه بـازار، مدیریت مؤثر منابع آب و منابع طبیعی، سـازگاری با تغییر اقلیم و میکانیزه‌سـازی فعالیت‌ها با در نظـر گرفتن شرایط عینی کشور، تدوین گردیده اسـت. در این پالیسی اقدامات مشخص گنجانیده شده که انجام آن منجر به تحقق اهداف و مقاصد این پالیسـی شده و در نتیجه دیدگاه عمومی پالیسی دست‌یافتنی می‌گردد.

## تأکید بر تحقیق و اصلاح نباتات

تمرکـز بر اصلاح نباتات، سروی خـاک، حفظ منابع جنتیکی و کنترول امراض و آفات، پایه علمی توسـعه زراعت را تقویت می‌کند. معرفی ورایتی های مقاوم و پُرحاصل و توسعه سیسـتم معلوماتی خاک می‌تواند بهره‌وری را به شکل قابل ملاحظه افزایش دهد.

## تقویت خدمات ترویجی و نگاه جامع به زنجیره ارزش و بازار

توسـعه واحدهای ترویجی در سـطح ولسوالی‌ها و آموزش دهقانان و مالداران، پل ارتباطی میان تحقیق و عمـل را تقویت می‌کند. کاهـش ضایعات پس از برداشـت و معرفی بدیل‌های مشروع کشت از نکات مهم اجتماعی این بخش اسـت. توسـعه زیربناهای بازار، ایجاد برند ملـی، رعایت معیارهای بین‌المللی، ایجاد بانک زراعتی و حمایت‌های مالی، نشان‌دهنده درک اهمیت بازار در توسعه پایدار است.

## توجه به منابع طبیعی و استفاده مؤثر از زمین‌های امارتی

حفاظت از جنگلات، علفچرها، ساحات حفاظت‌شده و مدیریت پایدار منابـع طبیعی، رویکردی هماهنگ با توسعه پایدار و سـازگاری با تغییر اقلیم است. ایجاد چارچـوب حقوقی برای اسـتفاده از زمین‌های بکر و جلوگیری از غصب زمین، می‌تواند زمینه سرمایه‌گذاری و توسعه زراعت تجارتی را فراهم سازد.

## مدیریت و توسعه آبیاری

تحت آب قــرار دادن زمین‌های زراعتی (بکر و بایر)؛ ایجاد و انکشــاف بندها و انهار به همــکاری ادارات ذیربط و ســکتور خصوصی؛ احیا، ایجاد، توســعه و تنظیم شــبکه‌های عمومی و فرعی آبیاری به ســطح کشور؛ احیا، ایجاد، توسعه و تنظیم شبکه زهکشی و اصلاح زمین؛ احیا، ایجاد، توسعه و تنظیم آب در مزرعه جهت صرفه‌جویی و تنظیم منابع آبی کشــور؛ طرح و تطبیق برنامه‌های مؤثــر جهت جذب آب‌های باران و برف؛ تقویت ســاختارها و چارچوب‌هــای حقوقی و تصفیه نمــودن فاضلاب بــه آب پاک بــرای آبیاری اقداماتی اند که در این پالیسی در زمینه مدیریت آب در نظر گرفته شده اند.

## میکانیزه سازی زراعت و مالداری

میکانیزه‌سازی زراعت و مالداری در افغانستان یک ضرورت مهم بــرای افزایش تولیــد، بهبود کیفیت محصولات، کاهش وابســتگی بــه واردات و ایجاد فرصت‌هــای اقتصــادی پایدار به شــمار می‌رود. اقدامات عملی که در این پالیســی گنجانیده شده قرارذیل اند: فراهم‌آوری زمینــه حمایت‌های مالی برای دهقانان و مالداران کشــور، حمایت و تشویق ســکتور خصوصی جهت سرمایه‌گذاری در قسمت ماشینری سکتور زراعت و مالداری، افزایش ظرفیت ماشینری موجود و ارائه خدمات ماشینری در سراسر کشــور، تقویت و توســعه استیشــن‌های میکانیزه زراعتــی و مالــداری، ترویــج زراعــت و مالداری ماشینری عصری برای جایگزینی زراعت و مالداری عنعنوی، آموزش دهقانــان و مالداران با روش‌های نوین جهت بهره‌برداری از ماشــین‌آلات، فراهم‌آوری زمینــه همکاری‌هــای ملــی و بین‌المللــی جهت میکانیزه‌ســازی ســکتور زراعت و مالداری، اصلاح زمین‌های ناهموار به زمین‌های قابل کشت با اســتفاده از ماشــین‌آلات وایجاد فارم‌های تولید و پرورش با در نظر داشت ستندرد و معیارهای تعیین شده کشور.

## اهمیت اقتصادی و اجتماعی پالیسی ملی انکشاف زراعتی و مالداری

این پالیســی می‌توانــد منجر به حرکت به ســوی خودکفایی غذایی، ایجاد اشتغال گسترده روستایی و افزایش صادرات و عواید اسعاری گردد که در نتیجه کاهــش کمبود گندم، افزایش تولید نباتات روغنی و محصولات لبنی می‌تواند وابســتگی بــه واردات را کاهش دهد. تقویت باغداری، نباتات طبی، مالداری و صنایــع پروســس، فرصت‌های کاری مســتقیم و غیرمســتقیم ایجــاد می‌کنــد. و محصولاتی چون زعفــران، جلغوزه، میوه‌جات خشــک و تازه و برخی نباتات صنعتی که ظرفیت بلند آوردن اسعار خارجی دارد میتواند به ثبات پول کشور مفید باشد.

## نتیجه‌گیری

پالیسی ملی انکشاف ســکتور زراعت و مالداری یک ســند جامع، علمی و آینده محور است که تلاش دارد افغانستان را از زراعت عنعنوی به زراعت عصری، پایدار و تجارتی راهنمایی ســازد. این پالیســی با تمرکز بر تحقیق، ترویج، افزایش تولید، توســعه بازار، مدیریت منابع طبیعی و اصلاح ساختارهای حقوقی زمین، یک نقشــه راه روشن برای تحول اقتصادی کشور ارائه می کند. با این حال، موفقیت آن وابسته به تطبیق عملی، تأمین منابع، تقویت ظرفیت نهادی، مشــارکت فعال سکتور خصوصی و همکاری جامعه دهقانی و مالداری اســت. اگر این عناصر به‌صورت هماهنگ و هدفمند عملی گردد، می‌توان امید داشــت که افغانستان در مسیر خودکفایی غذایی، کاهش فقر، ایجاد کاریابی پایدار و رشد اقتصادی متوازن گام‌های مؤثر بردارد.

# د پاکستاني درملو بندیز؛

## د داخلي صنعت د پیاوړتیا، کاري فرصتونو د ایجاد او پانګونې د جذب په لور مهم ګام

زاهد خان

په دې لیکنه کې هېواد ته د پاکستاني درملو پر وارداتو د بندیز، د کورنیو تولیدي فابریکو د ودې فرصت د غوړېدا، د کارموندنې زیاتوالي،د پانګونې د جذب، د ځان بسیاینې پر لور خوځښت، د درملو د تولید د پراختیا او خصوصي سکتور د ملاتړ په اړه بحث شوی دی.



## سریزه

د افغانســـتان اسـلامي امـارت د ریاســت الوزراء اقتصـــادي مرســـتیال محترم مــلا عبدالغني برادر اخوند د ۲۰۲۵ کال د نومــبر په ۱۲ مه نېټه افغان سوداګرو او پانګوالو سره خبرو کې اعلان وکړ چې له درې میاشتو وروسته به هېواد ته پاکستاني درمل نه راوړل کېږي، د ۲۰۲۵ کال د فبروري میاشــتې له نهمې نېټې وروســته پاکستاني درملو ته په ګمرکونو کــې د تېرېدو اجــازه نه ورکــول کېــږي او نه به محصولیــږي. دغه بندیز که څه هم په ظاهره یوازې یو سوداګریز اقدام ښــکاري، خو په حقیقت کې د افغانســـتان د داخلي صنعت، پــه ځانګړي ډول د درملو د ســکتور د پیاوړتیــا، د پانګونې د جذب، د کارموندنې د زیاتــوالي او د اقتصادي خپلواکۍ پر لور یو ســتر بدلون بلل کېږي. افغانستان له لسیزو راهیســي په ډېرو برخو کې پــر وارداتو متکي پاتې شــوی، په ځانګړي ډول د درملو په ســکتور کې په پاکســتان متکي و او د هېواد لــه نیمايي ډېر بازار پاکســـتاني درملو نیولــی و. دې تکیې نــه یوازې اقتصادي فشــارونه رامنځته کــول، بلکې د داخلي تولید د ودې مخه یې هم نیولې وه. اوس د اسلامي امارت له لوري په پاکستاني درملو د بندیز له امله یو نوی فرصت رامنځته شــوی او افغانستان به وکولی شي چې د درملو داخلي صنعت ته مخه کړي.

## د درملو کورنیو تولیدي فابریکو د ودې فرصت

پر پاکستاني درملو له بندیز وروسته د هېواد په مختلفو ولایتونو کې د درملو د تولید کچه لوړه شوې او د ځینو سوداګرو په وینا خپل فعالیتونه به نور هم پراخه کړي. د دې یوه بېلګه په وروستیو کې بلخ ولایت دی، چېرته چې د درملو د تولید کچه لوړه شوې ده او اوس هلته لسګونه قلمه درمل تولیدېږي، چې د هېواد په اقتصاد مثبت اغېز ښندي او د یو لوی تحول په لور د تدریجي ګامونو لومړني پړاوونه یې بللی شو.

د پاکستاني درملو له بندیز سره افغان پانګوال د پراخې پانګونې او تولید فرصت ترلاســه کوي او هېواد ته نوې ټکنالوژي راوړي، چې له امله یې هېواد په ځینو درملو کې ځان بسیاینې ته رسېږي.

## د کارموندنې زیاتوالی

د اســلامي امارت له لوري د پاکستاني درملو له بندیز سره د درملو داخلي تولیداتو زیاتولو ته توجه شوې او د درملو د تولید ګڼو فابریکو خپل فعالیتونه پراخ او له دې امله ګڼ کاري فرصتونه ایجاد شوي دي. د پاکستاني درملو بندیز ښــیي چې نه یوازې په افغانســـتان کې صنعت وده کوي، بلکې ګڼو افغانانو ته یې د یوې مړۍ روزۍ پیداکولو فرصت هم برابر کړی دی.

## د پانګونې د جذب نوی باب

په پاکستاني درملو له بندیز وروسته د اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزیر الحاج نورالدین عزیزي او عامــې روغتیا وزیر مولوي نــور جلال جلالي هند ته سفرونه وکړل. د دې سفرونو یوه اساسي موخه د بدیلو بازارونو موندل او د درملو سکتور کې د بهرنۍ پانګونې جذب و. د یادو مســـوولینو له ســفر وروســته ځینې هندي پانګوال افغانستان ته راغلل او دلته یې د درملو سکتور کې د پانګونې په اړه لیدنې کتنې درلودې.

دغــه راز، د صنعت او ســوداګرۍ وزارت مرســـتیال مولوي احمد الله زاهد د یــو پلاوي په مشرۍ بنګله دېش ته ســفر وکړ او هلته یې د درملو له تولیدوونکو شرکتونو او ســوداګرو سره خبرې وکړې. دا سفرونه او هڅې افغانستان ته دا زمینه برابروي چې له هغو

هېوادونو سره اقتصادي همکاریو ته پراختیا ورکړي او نه یوازې د درملو په برخه کــې واردات ولري، بلکې کولی شي چــې د هغــو هېوادونو د همــکارۍ او پانګونې په مرســته په افغانســتان کــې تولیدي فابریکې جوړې کړي.

## د ځان بسیاینې پر لور حرکت

په نړۍ کې هېڅ هېواد په بشپړ ډول ځان بسیاینې ته نه رسېږي او د درملو سکتور په ځېر سکتور کې د یو هېواد ځان بســیاینه او په معیار برابر د ټولــو ضروري درملو تولیدول ډېر ستونزمن دي. په دې اساس که یو هېواد د درملو په ځینو برخو کې هم ځان بسیاینې ته ورسېږي او واردات راکم کړي، نو دا به د هغه هېواد له پاره لویه خبره وي. په وروســتیو کې د درملو ســکتور کې د تولیدي فابریکو فعالیت او د فعالیت پراختیا ښــیي چې هېواد کولی شي په ځینو درملو کې ځان بسیاینې ته ورسېږي. په ځینــو برخو کې د تولید زیاتوالی افغانســتان ته دا فرصت ورکوي چې د اړتیــا وړ درمل په کور دننه تولید کړي. په پاکســتاني درملو بندیز اوس افغانستان ته دا فرصت برابر کړی دی چې ځینې هغه درمل چې د هېواد دننه تولیدېږي، کېدلی شي چې د فابریکو خاوندان یې تولید زیات کړي او افغانستان په کې ځان بسیاینې ته ورسوي. خو د تولید د زیاتوالي له پاره د نړیوالو معیارونو نظر کې نیول ډېر ضروري دي، ځکه د بې کیفیته درملو تولید ولس ته زیان رسوي او د پاکستاني درملو د واردولو د بندیز یو اصلي لامل همدا ټیټ کیفیت و، نو په کار ده چې صنعتــکاران د درملو د تولید د زیاتوالي ترڅنګ د درملو کیفیت ته هم ډېره پاملرنه وکړي.

## د سختو ناروغیو له پاره د درملو د تولید زمینې برابرېدل

اوســمهال په افغانســتان کې زیاتره تولیدېدونکي درمل ســاده او عام اســتعمال لري. خو د بندیز له امله رامنځته شوی فرصت کولی شي پانګوال دې ته وهڅوي چې د زړه، شکر، سرطان او نورو ناروغیو له پاره د درملو تولید ته هم مخه کړي. که افغانســتان وکولی شي چې په تدریجي ډول د سرطان، شــکر، زړه او نورو ســختو ناروغیو درمل په کور دننه تولید کړي، نو دا به د افغانستان له پاره یو لوی او مهم



گام وي، خو دا کار ډېر وخت او پانګونې ته اړتیا لري، خو له پاکستانه د دغه ډول درملو بندیز افغانستان ته دا فرصت ورکوي، چې صنعتکاران او پانګوال په دې اړه فکر وکړي او د نړیوالو معیارونو نظر کې نیولو سره د دې ډول سختو ناروغیو درمل هم تولید کړي.

## د خصوصي سکتور ملاتړ او اقتصادي ثبات

په افغانستان کې د درملو زیاتره فابریکې د خصوصي سکتور له لوري جوړې شوې دي. خصوصي سکتور د افغانستان د اقتصاد د ملا تیر ګڼل کېږي، ځکه په هېواد کې پانګونه کوي او د امارتي عوایدو مهمه برخه جوړوي. په پاکستاني درملو بندیز خصوصي سکتور ته دا پیغام ورکوي چې اسلامي امارت د داخلي تولید ملاتړ کوي او خصوصي سکتور ته د ګڼو امتیازاتو په ورکولو سره د دې سکتور تقویه غواړي. اسلامي امارت پانګوالو ته ډاډ ورکړی چې که په افغانستان کې پانګونه کوي، نو اسلامي امارت به یې بشپړ ملاتړ کوي او هر ډول اسانتیاوې به ورته برابروي.

## پایله

له پاکستانه د درملو پر وارداتو بندیز د افغانستان له پاره یوازې یو سوداګریز اقدام نه، بلکې د اقتصادي بدلون یو تاریخي فرصت دی. دا پرېکړه د داخلي صنعت د پیاوړتیا، د تولید د ظرفیت لوړولو، د کارموندنې د زیاتوالي، د پانګونې د جذب، د ټکنالوژۍ د انتقال او د ځان بسیاینې پر لور د حرکت زمینه برابروي. ضروري ده چې افغانستان له دې فرصته په سمه توګه استفاده وکړي. دا فرصت افغانستان د درملو په یو مهم صادراتي هېواد هم بدلولی شي. اسلامي امارت د هېواد د ټولو اقتصادي سکتورونو ملاتړ کوي او په دې تړاو یې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جذب له پاره ګڼ امتیازات او اسانتیاوې په نظر کې نیولي دي. پر پاکستاني درملو بندیز د هېواد داخلي صنعت په پیاوړتیا کې مهم رول لوبوي او کولی شي افغانستان د اقتصادي خپلواکۍ، صنعتي ودې او ځان بسیاینې نوې مرحلې ته ورسوي.



# په اقتصادي وده کې
# د فرهنګي میراثونو نقش

**څېړونکی:** پوهنیار خیبر خیبر
**اړیکې شمېره:** 0779608561
**ایمیل:** khyberkhyber95@gmail.com

په دې لیکنه کې په افغانستان کې د فرهنګي میراثونو د ارزښت، ودې، کارموندنې او دوامداره پراختیا په اړه بحث شوی دی.



## لنډیز

له فرهنګي میراثونو څخه غوره او معاصره ګټه اخیستنه د هېواد پر اقتصادي وده د پام وړ اغېز کوي؛ کاري فرصتونه زیاتوي، د بازار تنوع رامنځته کوي او د اسعارو د راتګ سبب ګرځي.
فرهنګي میراثونه د یوې ټولنې تاریخي او هویتي ارزښتونه شمېرل کېږي؛ په اوس وخت کې دا ارزښتونه نه یوازې فرهنګي اړخ لري، بلکې په اقتصادي وده کې یې رول هم ډېر د پام وړ ګرځېدلی دی. دا مقاله په تحلیلي او توصیفي توګه د فرهنګي میراثونو او اقتصادي ودې ترمنځ اړیکه بیانوي او ښیي چې فرهنګي میراثونه د کارموندنې، د محلي اقتصاد د غوړېدو او دوامدارې ودې لپاره مهم بالقوه ظرفیتونه لري.
دا مقاله د افغانستان فرهنګي میراثونه د هغوی د اقتصادي اړخ له لوري تشریح کوي او دا په ګوته کوي چې ګران هېواد د فرهنګي میراثونو له اړخه هم یو غني هېواد دی او کولی شي چې دا میراثونه د اقتصادي ودې د تسریع په موخه په سمه توګه وکاروي.
**کلیدي ټکي:** افغانستان، فرهنګي میراث، اقتصادي وده، کار موندنه، دوامداره پراختیا.

## سریزه

فرهنګي میراث هغه مادي او غیرمادي ارزښتونه، شتمنۍ او څرګندونې دي چې له تېرو نسلونو څخه اوسني نسل ته لېږدول شوي وي او د ټولنې د هویت، تاریخ، باورونو، ارزښتونو او کلتوري تنوع استازیتوب کوي. په فرهنګي میراث کې تاریخي ودانۍ، یادګارونه، لرغوني آثار، موزیمي توکي، دودونه، ژبه، دیني مراسم، عنعنوي پوهه، هنري بیانونه او ټولنیز رواجونه شامل دي، چې ساتنه او انتقال یې د راتلونکو نسلونو لپاره د بشري ټولنې ګډ مسوولیت ګڼل کېږي. (UNISCO, 2003).

فرهنګي میراث د فرهنګي پانګې هغې بڼې ته ویل کېږي چې هم مادي او هم غیر مادي اړخونه لري او له پخوانیو نسلونو څخه راتلونکو نسلونو ته په میراث پاتې شوي وي. په مادي بڼو کې یې موزیمونه، تاریخي ابدات، ودانۍ، لرغوني ځایونه، ښارونه او یا هم پرانیستې عامه فضاوې شاملې دي، په داسې حال کې چې غیر مادي فرهنګي میراثونه جشنونه، دودیز مراسم، دودیزه پوهه او ورته نور عناصر رانغاړي (Throsby 2012).

د افغانستان فرهنګي میراثونه له مادي او غیر مادي کلتوري شتمنیو څخه تشکیل شوي دي چې د دې خاورې د تاریخي تمدنونو، اسلامي ارزښتونو، قومي تنوع او ټولنیزو تجربو په لړ کې رامنځته شوي او له یوه نسل څخه بل نسل ته پاتې شوي دي. په دې میراثونو کې تاریخي ښارونه او ودانۍ، ماڼۍ، کنډوالې، جوماتونه، مدرسې، زیارتونه، لرغوني کلاوې، لرغوني آثار، موزیمي توکي، دودیز صنایع، ولسي جامې، دودیز خواړه، دودیزې لوبې او همدارنګه غیر مادي عناصر لکه ژبې، لهجې، ولسي ادب، دودونه، عنعنوي پوهه، دیني او ټولنیز مراسم شامل دي.

دا میراثونه د افغان ولس د هویت، ملي یووالي او کلتوري دوام بنسټ جوړوي چې ساتنه، مدیریت او ترې معقوله ګټه‌اخیستنه د ټولنې، نظام او راتلونکو نسلونو ګډ مسؤلیت ګڼل کېږي.

د افغانستان فرهنګي میراثونه، د شتمنو لرغونو آثارو او ښکلو طبیعي منظرو په لرلو سره، د ګرځندوی د پراختیا لپاره ستر ظرفیت لري. دا ظرفیت کولی شي د ملي عوایدو د زیاتوالي، د زرګونو مستقیمو او غیرمستقیمو کاري فرصتونو د رامنځته کېدو او د

عوایدو د لاســته راوړلو لامل شي. د بنسټیزو زیربناوو لکه هوټلونو، ترانسپورټي سیستمونو او امنیت په برخه کې د پانګونې او د شــته خدمتونو د لــه منځه وړلو له لارې، دا سکتور د دوامدارې اقتصادي ودې د محرک په توګه عمل کولی شي.

## اهمیت

د فرهنګي میراثونو رول پــه اقتصادي پراختیا کې په وروستیو کلونو کې ورځ تر بلې د پام وړ ګرځېدلی دی. ډېر شــمېر څېړونکي د اقتصاد په وده کې د فرهنګي میراثونو مثبت اغېز درک کوي او اســتدلال کوي چې فرهنګي متغیریــن کولی شي د کلاســیک اقتصاد ســنجي موډلونو تشریحي ځواک زیات کړي. هغوی وړاندیز کوي چې فرهنګي متغیرونه باید د مهمو سببي فکتورونو په توګه وڅېړل شي او له همدې امله فرهنګي عوامل، لکه فرهنګي پانګه، د اقتصادي ودې او پراختیا په رسمي سلوکي ماډلونو کې شــاملوي .(Throsby 1999; Granato et al. 1996; Altman 2001).

فرهنګي میراثونه یوازې تاریخي یا کلتوري ارزښــت نه لري، بلکې د ملي اقتصاد د ودې، سیمه‌ییزو بازارونو د پراختیا، کارموندنــې او ګرځندوی په برخه کې مهمه اقتصــادي سرچینه ګڼل کېږي. پــه ځانګړي ډول د افغانســتان په څېــر هېوادونو کې، چــې اقتصادي ظرفیتونه یې محدود دي، فرهنګي میراثونه کولی شي د پانګونې، ګرځنــدوی او ټولنیز ثبات لپاره نوې لارې پرانیزي. فرهنګــي میراثونه په اوســني وخت کې د اقتصادي سرچینې په توګه پېژندل کېږي.

فرهنګي میراثونه د بشري تمدن د تاریخي تسلســل، ټولنیز هویت او فرهنګي ارزښتونو څرګندونه کوي، خو په معاصر اقتصاد کې یې رول تر فرهنګي چوکاټ ډېر پراخ شوی دی. وروستیو علمي څېړنو ثابته کړې چې فرهنګي میراثونه د اقتصادي ودې، سیمه‌ییز پرمختګ، کارموندنــې، ګرځندوی او ټولنیز ثبــات لپاره یو مهم اقتصــادي فکتــور بلــل کېــږي. (Kyriakis & Tsiropoulos, 2024).

## موخــــې

۱. د فرهنګي میراثونو پېژندنه؛

۲. په اقتصادي وده کې د فرهنګي میراثونو د نقش پېژندنه؛

۳. په افغانســتان کې پر کار موندنــه او اقتصادي ودې د فرهنګي میراثونه د اغېز پېژندنه.

## د څېړنې پوښتنې

**اصلي پوښتنه:**

۱. فرهنګي میراثونه په اقتصادي وده څه اغېز لري؟

**فرعي پوښتنې:**

۱. فرهنګي میراثونه کومو میراثونو ته ویل کېږي؟

۲. فرهنګــي میراثونه دکارموندنــې د پراختیا لپاره کوم فرصتونه برابروي؟

## د څېړنې ادبیات

د فرهنګي میراثونو او اقتصادي ودې ترمنځ د اړیکې په اړه ډېــرى تجربوي څېړنې پیاوړى محــلي بُعد لري؛ همدارنګه دا څېړنې د اقتصادي ودې او پراختیا په بهیر کې د فرهنګي میراثونو د څو اړخیز رول هر اړخیز درک وړاندې کوي. دغه څېړنې ټینګار کوي چې سیمې او ښــارونه کولی شي د خپل فرهنګــي میراث څخه په اغېزناکې ګټې اخیســتنې سره د ســیالۍ وړتیا لوړه کــړي. (Scott 2000; Bandar in et al. 2011; Licciardi and Amirtahmasebi 2012).

نړیوالو څېړنو څرګنده کــړې چې فرهنګي میراثونه د سیمه‌ییز عاید، پانګونې او ګرځندوی د زیاتوالي سبب

گرځي. د یونان، چین او ترکیې تجربې دا اړیکه په علمي ډول ثابتوي. همدارنګه، فرهنګي میراثونه د ټولنیز پرمختګ، ټولنیز ثبات او دوامدارې ودې لپاره مهمې سرچینې ګڼل کېږي. دا څېړنې ښیي چې فرهنګي پانګه کولی شي سیمه‌ییز اقتصاد ته د پام وړ ارزښت او متنوع فرصتونه برابر کړي.

اقتصادي تیوري فرهنګي میراثونه د غیر مادي پانګې یوه مهمه برخه ګڼي. د نوي ودې تیوري (Endogenous Growth Theory) له مخې، فرهنګي ارزښتونه د نوښت، ټولنیز باور او پانګونې د جذب سبب ګرځي. تجربوي څېړنې ښیي هغه سیمې چې قوي فرهنګي میراثونه لري، د عاید، تولید او پانګونې لوړه کچه تجربه کوي (Kyriakos & Stavropoulos, 2024).

همدارنګه، د چین پر ښارونو ترسره شوې څېړنه ښیي چې فرهنګي میراثونه د ښارونو اقتصادي وده، سوداګریز فعالیتونه او د خدماتي سکتور پراختیا پیاوړې کوي (Sustainability, 2024)

فرهنګي ګرځندوی د کلیوالو او وروسته پاتې سیمو لپاره ځانګړی اهمیت لري، ځکه چې دا د سیمه‌ییزو ټولنو اقتصادي مشارکت تضمینوي (International Journal of Sustainable Development Research, 2023).

فرهنګي میراثونه د کارموندنې په برخه کې مستقیم او غیر مستقیم رول لري. د تاریخي آبداتو ساتنه، ترمیم، مدیریت او معرفي کول تخصصي کاري ځواک ته اړتیا لري. سربېره پر دې، دودیز صنایع لکه قالین اوبدل، ګلدوزي او لرګي کاري د زرګونو کورنیو د عاید سرچینه ګرځېدلې ده. مطالعې ښیي چې فرهنګي اقتصاد د سیمه‌ییزو اقتصادونو د تنوع سبب ګرځي او د اقتصادي تمرکز مخه نیسي (World Bank, 2018).

دا موضوع په ځانګړي ډول د پرمختیایي هېوادونو لپاره مهمه ده.

د مصر اهرام، لرغوني معابد او تاریخي ښارونه د دې هېواد د اقتصاد مهمه برخه جوړوي. فرهنګي میراثونه د مصر د ګرځندوی د عوایدو اصلي سرچینه ده او په مستقیم ډول یې د کارموندنې کچه لوړه کړې ده (UNESCO, 2013).

د افغانستان هېواد د بامیانو درې، د هرات تاریخي ښار، د غزني اسلامي آبدې او دودیز صنایع لري. که دا میراثونه د علمي مدیریت، امنیت، زیربناوو او نړیوالو معیارونو له مخې تنظیم شي، کولی شي د سیمه‌ییز اقتصاد، کارموندنې او ملي عوایدو مهمه سرچینه وګرځي (Sustainability, 2024).

فرهنګي میراثونه د دوامدارې ودې له درې واړو ستنو (اقتصادي، ټولنیز، چاپېریالي) سره سمون لري. دا میراثونه د طبیعي سرچینو په څېر نه ختمېدونکي دي او د چاپېریال د تخریب پرته اقتصادي ارزښتونه لوړوي. فرهنګي میراث ساتنه نه یوازې د اقتصادي ودې کمیت لوړوي، بلکې کیفیت هم لوړوي (Finance Research Letters, 2025).

## مېتودولوژي

دا څېړنه تحلیلي او توصیفي ده.اړوند معلومات له دوهمي سرچینو لکه علمي مقالو، نړیوالو راپورونو او کتابونو څخه اخیستل شوي او محتوایي تحلیل یې ترسره شوی دی.

په اقتصادي وده کې د فرهنګي میراثونو رول

فرهنګي میراثونه د اقتصادي ودې پر بنسټیزو فکتورونو لکه کارموندنه، پانګونه او سیمه‌ییز بازار اغېز لري. د میراث ساتنه د اقتصادي فعالیتونو د تنوع سبب ګرځي. فرهنګي میراثونه د خدماتي سکتور،

ګرځندوی، هټۍ او کوچنیو کاروبارونو د پراختیا لپاره د پانګې او روزګار فرصتونه رامنځته کوي. د نړیوالو تجربو پر بنسټ، هغه سیمې چې قوي فرهنګي میراثونه لري، د اقتصادي ودې لوړه کچه تجربه کوي.
په بامیانو، هرات، بلــخ، کندهار او نورو ولایتونو کې د ګران هېواد افغانستان تاریخي آثار او د مختلفو سیمو طبیعي ښکلاوې کولی شي بهرني ګرځندویان راجلب کړي او په میلیونونو افغانۍ هېواد ته راوړي؛ چې هېواد ته د اســـعارو د راتګ زمینه مساعدوي، د اړوندو سیمو اقتصاد ورسره ښه کېږي او زیربنایي فعالیتونه زیاتیږي؛ چې دا پخپل وار د هېواد په اقتصادي وده کې مهم رول لوبوي.  د ګرځندوی صنعت په پیاوړتیا او پراختیا سره په اړونـــدو مســـیرنو کـــې د هوټلونو، رســـتورانتونو، ترانســـپورټي خدماتو، سیاحتي خدماتو اړتیا ډېریږي، چـــې دا د کوچینو او متوســـطو کاروبارونو په ایجاد او پراختیا او د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې مهم او اغېزناک رول لوبوي.  په افغانستان کې د لاسي صنایعو فرهنګ له پخوا راهیســـې دود دی او په زرګونو خلک لاسي صنایع تولیدوي؛ چې کیفیت او ارزښت یې لا هم پر ځـــای دی او د نړیوالو تقاضا ورته شـــته؛ فرهنګي میراثونه لاسي صنایعو تـــه وده ورکوي، چې دا خپله د عاید سرچینه او د فرهنګي هویت د پیاوړتیا وسیله ده.
ګران هېواد افغانســـتان کې پـــه ۱۴۰۳ ل کال کې د داخـــلي ګرځندویانو شـــمېر ۳۸۳۳۵۷۳ او د بهرنیو ګرځندویانو شـــمېر ۸۵۷۶ تنه و (د اطلاعات او کلتور وزارت، ۱۴۰۳). او د ۱۴۰۴ ل کال پـــه اوله او دوهمه ربعه کې د داخلي ګرځندویانو شمېر ۶۱۰۸۰۰۰ تنه او د بهرنیو ګرځندویانو شمېر ۹۰۰۰ تنه و (د اطلاعات او کلتور وزارت، ۱۴۰۴).  چې د افغانستان له مختلفو ســـیمو څخه یې لیدنه کړې؛ دې چـــارې هېواد ته د اسعارو د راتګ زمینه مساعده کړې، نړۍ ته یې د ګران هېواد د با ارزښته فرهنګي میراثونو انځور ښودلی او له بلې خوا دې سیلانیانو ثابته کړې چې افغانستان امن دی او د نړۍ له هر ګوټ څخه ســـیلانیان کولی شي چې له دې هېواد څخه لیدنه وکړي؛ مګر سربېره پر دې چې ګران هېواد د فرهنګي میراثونو او سیاحتي ښکلو او طبیعي سیمو له اړخه غني هېواد دی؛ خو بیا هم د سیاحتي سیمو د زیربنا په برخه کې د پام وړ پانګونه نه ده شـــوې چې دې چارې د افغانســـتان د سیاحت او ګرځندو په صنعت منفي اغېز کړې ده.
په پایله کې ویلی شـــو، چې له فرهنګي میراثونو څخه غـــوره او معاصره ګټه اخیســـتنه د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د غوړېدو ســـبب ګرځي، د هېواد مالیاتي او غیر مالیاتي عواید زیاتوي، نړۍ ته د هېواد غوره انځور وړاندې کوي او په ټوله کې د اقتصادي ودې او پراختیا لامل ګرځي.

## پایله

له فرهنګي میراثونو څخه غوره ګټه اخیستنه د هېواد د اقتصـــادي ودې او پراختیا په برخه کې یو له اغېزناکو بالقوه فرصتونو څخه ګڼل کېږي؛ دې څېړنې څرګنده کړه چې ګران هېواد افغانســـتان مختلف مادي او غیر مـــادي فرهنګي میراثونه لري، چې لـــه دغو میراثونو څخه ســـمه اســـتفاده کولی شي چې د کار موندنې فرصتونه زیات کړي، د هېواد ملي عاید لوړ کړي او په لویه کې د دوامدرې ودې سره مرسته وکړي.
پـــه بامیانو، هرات، بلخ، نورســـتان، کندهـــار او نورو ولایتونو کې د ګران هېواد افغانستان تاریخي آثار او د مختلفو سیمو طبیعي ښکلاوې او د هېواد ښکلی اقلیم کولـــی شي بهـــرني ګرځندویان راجلب کـــړي او په میلیونونـــو افغانۍ هېواد ته راوړي؛ چـــې هېواد ته د اسعارو دا راتګ د هېواد اقتصاد ښه کوي.  د نړیوالو

تجربو له مخې، د فرهنګـــي میراثونو په اغېزناکه توګه ســاتنه او مدیریــت د اقتصادي ودې لپــاره د پام وړ فرصتونــه رامنځته کوي؛ له بلې خــوا د نورو فرهنګي میراثونو ترځنګ په ځانګړې توګه د افغانســتان لاسي صنایع د فرهنګي میراثونو په توګه یو د مهمو اقتصادي سرچینو په توګه اســتفاده کیدلــی شي؛ چې د ډېرو کورنیو فــردي اقتصاد یې پیاوړی کــړی او د ټولنیزو ســتونزو ګراف یې راټیټ کړی دی؛ مګر په دې برخه کې لا ډېر حمایت او کار ته اړتیا لیدل کېږي.

## وړاندیزونه

د فرهنګي میراثونو د اقتصادي ارزښت د زیاتوالي لپاره لاندې وړاندیزونه وړاندې کېږي:

۱. د افغانســتان اســلامي امارت د ملي پراختیایي تګلارې په چوکاټ کې باید د فرهنګي میراثونو ساتنې، اعمار، حفــظ او مراقبت او معرفي کولــو لپاره واضح پالیسی او پلانونه جوړ او تطبیق کړي.

۲. ډېر ځایونه لیدل کېږي چې د بهرنیو سیلانیانو سره د یو شمېر افغانانو برخورد له توهین او تحقیر څخه ډک دی؛ اړینه ده چې د دې ســتونزې د اصلاح لپاره عامه پوهاوی ترسره شي؛ ترڅو له یوې خوا بهرني سیلانیان جذب شي او لــه بلې خوا بهرنیانو تــه د افغانانو لوړ فرهنګ ضعیف معرفي نه شي.

۳. د فرهنګي میراثونو د اقتصادي ارزښت په اړه عامه پوهاوی باید لوړ شي، ترڅو خلــک او پانګوال د دغو منابعو په ساتنه او پالنه کې ونډه واخلي.

۴. فرهنګي میراثونه باید د ګرځنــدوی د پراختیا او ســیمه‌ییزو بازارونو د ځواکمنتیا لپاره اغېزناکه وسیله وګرځي. دې تــه باید د پانګونې فرصتونه او اقتصادي ملاتړ برابر شي.

۵. د فرهنګي میراثونو په ساتنه او مدیریت کې باید ســیمه‌ییز خلک ښــکېل شي، ترڅــو د کارموندنې فرصتونه زیات شي او ټولنیز پرمختګ رامنځته شي.

٦. د امارت له لوري باید د ښــکلو طبیعي سیاحتي سیمو د زیربنا د پراختیا او پیاوړتیا په برخه کې د پام وړ پانګونــه صورت ونیسي؛ ترڅو د یادو ســیمو ته ورتګ اسانه شي او اړین امکانات برابر شي.

۷. د ســیلانیانو د جلــب او جذب په موخــه باید د افغانســتان فرهنګي میراثونه او ښــکلې ســیمې د مشخصو سایټونو په واسطه په مسلسله او سیستماتیکه معرفي شي.

## مأخذونه


1. Altman M (2001) Culture, human agency, and economic theory: culture as a determinant of material wel fare. J Socio-Econ 30:379–391.

2. Bandarin F, Hosagrahar J, Albernaz FS (2011) why development needs culture. J Cult Heritage Manag Sustain Dev 1:15–25.

3. Finance Research Letters. (2025). Economic impacts of cultural heritage in developing countries. Finance Research Letters, 65, 103204.

4. Granato J, Inglehart R, Leblang D (1996) the effect of culture on economic development: theory hypoth eses and some empirical tests. Am J Polit Sci 40:607–631?

5. Kyriakis, F., & Tsiropoulos, D. (2024). Cultural heritage and economic development: An empirical analysis. Finance Research Letters, 58, 102819.

6. Licciardi G, Amirtahmasebi R (eds) (2012) The economics of uniqueness: investing in historic city cores and cultural heritage assets for sustainable development. World Bank, Washington DC.

5. Sustainability. (2024). Tourism, cultural heritage, and regional economic growth.

7. Throsby D (2012) Heritage economics: a conceptual framework. In: Licciardi G, Amirtahmasebi R (ads) the economics of uniqueness: investing in historic city cores and cultural heritage assets for sues trainable development. The World Bank, Washington, DC

8. Throsby D (1999) Cultural Capital. J Cult Econ 23:3–12.

9. UNESCO. (2013). Culture: A driver and enabler of sustainable development. United Nations Educational, Scientific and Cultural Organization.

10. UNESCO. (2003). Convention for the Safeguarding of the Intangible Cultural Heritage. Paris: United Nations Educational, Scientific and Cultural Organization.

11. World Bank. (2018). the role of cultural heritage in sustainable development. World Bank

12. د افغانســتان د اطلاعــات او کلتــور وزارت د 1403 او 1404 کلونو احصایوي ارقام.

undermining one another instead be spent on mutual support and on strengthening common grounds.

In conclusion, I extend my sincere gratitude to the respected officials and instructors of the Hazrat Mu'adh bin Jabal (RA) National Military Academy, who serve with sincerity in their respective roles, and I hope they will pay even greater attention to the significance of this important responsibility in the performance of their duties.

Peace, mercy and blessings of Allah be upon you.

The Islamic Emirate of Afghanistan believes in regional and international engagement. We are committed to having appropriate interaction with all countries within the framework of our principles. For safeguarding long-term political and economic interests, it is essential that countries respect one another's values and sensitive domains.





The Islamic Emirate will, in the coming days, announce full tax exemptions for domestic and foreign investors for periods ranging from one to five years, depending on the scale of investment in new sectors. On the one hand, this will lead to the establishment and rapid growth of new sectors, and on the other hand, it will have a significant impact on strengthening the country's economic foundation and achieving self-sufficiency, Insha'Allah.

The policy of the Islamic Emirate is not deceptive. Today's Afghanistan has built its policies upon institutions whose foundation is Islamic Sharia, and whose spirit and essence are derived from it.



**Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund:**
Deputy PM for Economic Affairs

graduates on the successful completion of this important stage, and I am pleased that you have concluded this significant period of professional education with a fully Islamic and Afghan spirit.

**Dear graduates,**

It is evident that during your training at the military academy, in addition to professional education, you were also instilled with an understanding and spirit regarding the importance of national defense, national sovereignty, territorial integrity, and political sovereignty. What matters most is that you demonstrate this spirit and learning in practice for the preservation of Islamic and lofty Afghan values, and that you bravely defend the Islamic system and every inch of the homeland.

For the honor of the Islamic system and our beloved country, reform your intentions, purify your actions and words solely for the pleasure of Allah Almighty and the strengthening of the Islamic system, adopt piety, and take great care of your suffering and oppressed compatriots.

**Honorable listeners,**

As I have always stated, within the framework of its economy-oriented policy, the Islamic Emirate of Afghanistan believes in regional and international engagement. We are committed to having appropriate interaction with all countries within the framework of our principles. For safeguarding long-term political and economic interests, it is essential that countries respect one another's values and sensitive domains.

From the economic front, I bring you glad tidings: in order to support and encourage investors, the Islamic Emirate will, in the coming days, announce full tax exemptions for domestic and foreign investors for periods ranging from one to five years, depending on the scale of investment in new sectors. On the one hand, this will lead to the establishment and rapid growth of new sectors, and on the other hand, it will have a significant impact on strengthening the country's economic foundation and achieving self-sufficiency, Insha'Allah. Serious instructions have been issued to the Ministry of Industry and Commerce to expedite the process of land allocation for small, medium, and large industries and to provide the necessary facilities for them.

**Dear compatriots,**

The policy of the Islamic Emirate is not deceptive. Today's Afghanistan has built its policies upon institutions whose foundation is Islamic Sharia, and whose spirit and essence are derived from it. Afghanistan neither seeks to harm anyone nor accepts harm from anyone. However, if someone harbors malicious intentions toward it, then it will not leave its debt to anyone. History bears witness that this country is not a soft morsel but rather a tree of Zaqqum; it has choked the throats of long-established empires, and it will never be digested by newborn entities.

I consider it preferable that, within the framework of the values and principles of the Islamic Emirate, countries strive for political and economic engagement, and that the energy and resources wasted on

Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund:

# History bears witness that Afghanistan is not a soft morsel, but a tree of Zaqqum

The Deputy PM for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, on Sunday, February 8, 2026, attended the graduation ceremony of the seventeenth cohort of the Hazrat Mu'adh bin Jabal (RA) National Military Academy, affiliated with the Command of the Hazrat Abu Ubaidah bin Jarrah (RA) National Defense University. The Deputy PM congratulated the graduates on having acquired, alongside professional training during the academy's instructional period, education on the importance of national defense, national sovereignty, territorial integrity, and political sovereignty. He urged them to translate this spirit and learning into practice for the preservation of Islamic and lofty Afghan values, and to firmly defend the Islamic system and every inch of the homeland. He also emphasized the rectification of intentions, the adoption of piety, and care for the people of the country. The Deputy PM further stated that the Islamic Emirate, within the framework of its economy-oriented policy, believes in regional and international cooperation and is committed to engagement with all countries within the bounds of its principles. He stressed that, in order to safeguard long-term political and economic interests, countries must respect one another's values and sensitive domains.

## SPEECH OF THE DEPUTY PM FOR ECONOMIC AFFAIRS MULLAH ABDUL GHANI BARADAR AKHUND DURING THE GRADUATION CEREMONY OF THE SEVENTEENTH COHORT OF THE HAZRAT MU'ADH BIN JABAL (RA) NATIONAL MILITARY ACADEMY

In the name of Allah, the Most Gracious, the Most Merciful.

Respected officials of the Ministry of National Defense of the Islamic Emirate of Afghanistan; esteemed leadership and honorable members of the Command of Hazrat Abu Ubaidah bin Jarrah (RA) National Defense University; respected officials of various institutions of the Islamic Emirate; newly graduated forces; representatives of the media; and all distinguished attendees!

Peace, mercy and blessings of Allah be upon you.

I am pleased to participate in the graduation ceremony of the seventeenth cohort of the Hazrat Mu'adh bin Jabal (RA) National Military Academy, affiliated with the Command of Hazrat Abu Ubaidah bin Jarrah (RA) National Defense University.

First of all, I sincerely congratulate all

One of the main objectives of the ongoing projects between the two countries is the creation of employment opportunities. In this regard, we request your special attention to ensure that employment opportunities are provided for Afghans.

I also believe that, considering existing opportunities and needs, Afghanistan and Turkmenistan can become strong economic partners in the region. It is necessary for the two friend countries to work together in the initiation and management of projects in the fields of mining, transport, transit, services, regional infrastructure, and basic development projects, which will play an effective role in the economic stability, development, and prosperity of both countries in the near future.

Likewise, Turkmenistan has made progress in the agricultural sector. The Islamic Emirate wishes to benefit from the experiences of this country in agriculture, and I hope that the technical teams of both countries will work jointly in this field.

As banking interactions and facilities are a fundamental factor in strengthening bilateral trade, we request that banking branches be opened in Ashgabat and Kabul so that traders may be relieved of many difficulties and inconveniences.

Finally, once again, I express my gratitude to the friend country of Turkmenistan for its cooperation and goodwill toward Afghanistan, and I hope that the existing joint technical working teams will work together and cooperate effectively on the aforementioned and other issues.

Peace, mercy and blessings of Allah be upon you.



has created grounds for expanding further cooperation between Turkmenistan and Afghanistan, and on the other hand, has strengthened relations among the countries of the region.

As you are aware, Delta International Company has expressed interest in investing in the TAPI project and has shared the following points with us. Afghanistan would like to hear your views on these matters:

**First:** Signing a long-term natural gas purchase agreement and determining the price.

**Second:** Setting the annual gas purchase volume at up to thirty (30) billion cubic meters.

**Third:** Direct investment of up to thirty (30) billion US dollars to increase production capacity in Turkmenistan's large "Galkynysh" gas block.

**Fourth:** Full responsibility for the construction and extension of the natural gas transmission pipeline from Guzara District of Herat Province to Spin Boldak District of Kandahar Province.

**Fifth:** Based on a separate agreement with Pakistan, extension of the gas pipeline from Spin Boldak to the Indian border and its connection to Pakistan's Gwadar Port.

**Sixth:** At the official request of Pakistan, construction of a major gas hub and a modern storage facility at Gwadar Port.

Furthermore, determining the price of the gas to be imported into Afghanistan as a result of the TAPI project is considered one of the important and fundamental issues. We hope that the final decision regarding the price will be shared with Afghanistan.

We believe that the full implementation of the TAPI project can play a fundamental role in regional energy connectivity, economic stability, and sustainable cooperation.

On behalf of the Islamic Emirate of Afghanistan, the roadmap for the TAP project has been finalized, and our request is that it be signed by both sides during this meeting.

Alhamdullilah, the works of the Noor-ul-Jihad Substation project have been completed. We request that, as soon as possible, the construction of the Torghundi–Herat railway project, the transmission of electricity to Bala Murghab, Khamab, and Qarqin, and other vital and development-oriented regional connectivity projects be initiated. Inshallah, we are ready for all kinds of cooperation in these areas.

During the meeting held on the sidelines of the ECO organization, among many other issues, it was also agreed that you would personally follow up on the Torghundi–Herat railway construction project and would travel to Afghanistan for the purpose of signing the contract of the said project. On the other hand, Kazakhstan has also shown strong interest, through Afghanistan, in the implementation of this project. We hope that you will clarify your position on this matter to Afghanistan in the shortest possible time.

## MULLAH ABDUL GHANI BARADAR AKHUND MEETS WITH THE DEPUTY PM AND FOREIGN MINISTER OF TURKMENISTAN

The Deputy PM for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, met with the Deputy PM and Minister of Foreign Affairs of Turkmenistan, Rashid Meredov, on February 1, 2026 in Herat province. The meeting was also attended by the Minister of Mines and Petroleum of Afghanistan, Mullah Hedayatullah Badri; the Minister of Water and Energy, Mullah Mohammad Younis Akhundzada; the Minister of Transport and Railways of Turkmenistan; the Minister of State and Chairman of the Turkmengas State Corporation; as well as a number of Afghan and Turkmen officials.

During the meeting, discussions were held between the two sides regarding the TAPI, TAP, railway, and electricity projects.




## SPEECH OF THE DEPUTY PM FOR ECONOMIC AFFAIRS DURING MEETING WITH THE DEPUTY PM AND MINISTER OF FOREIGN AFFAIRS OF TURKMENISTAN

In the name of Allah, the Most Gracious, the Most Merciful.

To the Honorable Deputy PM and Minister of Foreign Affairs of the friend country of Turkmenistan, and the accompanying delegation,

Peace, mercy and blessings of Allah be upon you.

Welcome to your second home, Afghanistan. You are most warmly welcomed.

Afghanistan and Turkmenistan are two neighboring and friend countries that share common religious, historical, cultural, and economic ties. These shared commonalities have strengthened relations between the two countries.

Today is a good opportunity to discuss bilateral relations and economic issues, particularly the TAPI, TAP, railways, electricity, and trade-related matters.

Among other shared economic interests, the TAPI project is one of the major economic projects that, on the one hand,

| | |
|---|---|
| **Publisher:** | Office of Deputy PM for Economic Affairs |
| **Editorial Board:** | Maulvi Abdullah Azzam, Maulvi Zabehullah Nasir, Amanullah Hanifi, Fazal Wali Shirani and Najibullah Mayar |
| **Chief Editor:** | Maulvi Khaliq Dad Taqi |
| **English Translator:** | Sajad Ahmad K. |
| **Graphic Designer:** | Ataurahman Saeid |
| **Photojornalist:** | Hujjatullah Qazizadah |

Marmarin Palace, Malik Asghar Square, Kabul

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af

**Please provide proper attribution when using content from this magazine.**